مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۲/۰۵/۰۲

غزل

په تصوٌر کښې مي رڼا نه راځي
د یار نه طمع د وفا نه راځي

پردی قانون واکمن په مونږه شولو
اوښکي مي وچې شوې ژړا نه راځي

مکتب زما په مدرسو بدلوي
سلګۍ، سلګۍ شومه، چوپتیا نه راځي

تاودو څپو تاوده بادونه راوړل
په سوي ځان سړه هوا نه راځي

څانګه د ګل ومه، خزان وخوړم
د ښېرازۍ په ما فضاء نه راځي

د پسرلي غږ په وحشت ورکوي
چې حق خبرې د مُلا نه راځي

مصطفی پسرلی
01/May/2022

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ